د افغانستان اسلامي جمهوریت

د سټنډرډ ملي اداره (انسا)

د پلان او پالیسی ریاست

# ستراتیژیک پلان

۱۳۹۸ تر ۱۴۰۲

1398



اقتصادي وده او کاري موکې د ملي وحدت له لومړیو ورځو زمونږ عمومي موخې دي. د صادراتو وده کولای شي یو پیاوړ اقتصاد را منځته کړي او د هېواد په ګوټ ګوټ کې د خلکو د هوساینې او سلامتی سبب شي.

محمد اشرف غني

د ا.ا.ج ولسمشر

الـ
ۀ



## د افغانستان د اسلامي جمهوري دولت د دویم مرستیال او د ستندرډ عالي شورى د رییس پیغام

د ملي یووالي حکومت د هېوادونو په اقتصاد کې د سوداګرۍ رول او په کورنۍ او بهرنۍ سوداګرۍ کې د مصرفي او تولیدي محصولاتو معیاري کولو او د سوداګریز اقتصاد په پیاوړتیا کې د سیمییزو او نړیوالو ستنډرډونو رعایت کولو رول ته په کتو د مصرف کوونکو د حقوقو د رعایت کولو لپاره ستنډرډ جوړونه او پر وارداتي او صادراتي محصولاتو د نورمونو تطبیق یو اصل ګڼي. په دې توګه ( د افغانستان سولې او پرمختیا ملي چارچوب) د سند پر اساس او د صادراتو لوړوالي، د وارداتو کموالي، د کورنیو محصولاتو د تولید د کیفیت د کچې ښه والي او د کیفیت لرونکو وارداتي مصرفي محصولاتو وړاندې کولو ته په کتو د لارې نقشې برابرولو او د ستنډرډ ملي ادارې (انسا) د ستراتیژیک پلان تدوین یوه اړتیاا ده.

افغانستان د نړیوالې سوداګرۍ (WTO) او د ستنډرډ د نړیوال سازمان (ISO) او د اړونده نورو سازمانونو غړیتوب لري. له بلې خوا د ملي یووالي حکومت خپل پروګرامونه د اقتصادي اړیکو او د سیمې د ترازیتي څلورلارې پر اساس برابر کړي دي. په دې مهمه موخه کې د بریا لپاره په کورنۍ او بهرنۍ سیمییزې او غیر سیمییزې سوداګرۍ کې مثبتې سیالۍ ته اړتیا ده. د بهرنۍ سوداګرۍ تعادل ته د رسېدلو لپاره اړتیا ده چې د کمزورو او پیاوړو ټکو، فرصتونو او ګواښونو د پېژندلو تر څنګ د ستنډرډ جوړونې او د کورني تولیدي محصولاتو د کیفیت د ښه والي لپاره ګام پورته کړو او له بل لوري د غیر معیاري توکو د واردولو مخه ونیسو. له یوې متداومې ستراتیژۍ او عمل پلان پرته (څېړنه، لابراتواري ازمېښتونو او د منښتلیکونو صدور) پرته به دې موخې ته رسېدل ناشوني وي. له بلې خوا د دې موضوع څېړل په تخصص، ژمنې، بې طرفي او د ستنډرډ جوړونې په پروسه کې د تولیدي او مصرفي سکتور دخیلول او په پالیسۍ او قوانینو کې په اړینو اصلاحاتو او تعدیلاتو پورې اړه لري.

په دې ډول د انسا ادارې (د ستنډرډ ملي اداره) په ستراتیژیک پلان کې دوه بنسټیزو موخو ته رسېدلو لپاره چې د کیفیت د ملي بنسټ را منځ ته کول او پیاوړتیا او اقتصادي ودې او د صادراتو پرمختیا ته د ا.ا.ج حکومت د لاس رسي اسانتیا ده، په ستراتیژیکو موخو سره د بنیادي اصلاحاتو پلي کول، د حقوقي چارچوب پرمختیا، د تخنیکي او مدیریتي وړتیا لوړول او د نړیوالو اړیکو پراختیا، د نړیوال سوداګریز سازمان(WTO) او د ستنډرډ د نړیوال سازمان (ISO) د اصولو او تګلارو له مخې د ستنډرډ جوړونې د ملي سېستم پرمختیا، د معیاري صادراتو د پراختیا د موخې تر څنګ د ارزیابي چوپړتیاو پراختیا، د ملي مترولوژۍ له ډلې د علمي او حقوقي مترولوژۍ د سېستم پرمختیا، د څېړنیزو ټولیزو پروګرامونو طرح او پلي کول، د کیفیت د ملي بنسټ په اړه پوهاوی او زده کړه ورکول لازم او اړین دي.

د دې موخو ترلاسه کول يوازې له متخصصينو ، د نړيوالو سوداګريزو مرکزونو په همکارۍ، د نورو همکارانو او نړيوالو بنسټونو، ملي خصوصي سکټور او د افغانستان حکومت د اغېزمن او شفاف نظارت څخه د ګټې اخيستنې په اساس يقيني کېږي. په دې سره دا توقع کېږي چې ( د سټنډرډ ملي سټراتيژي) د اقتصادي روښانتيا ، د داخلي محصولاتو د کيفيت ښه والی، په سيمييزه او نړيواله کچه سټنډرډ او کيفيت لرونکو توکو ته د مصرف کوونکو د لاس رسي او د افغانستان د صادراتو د زياتوالي سبب ګرځي.

په پای کې د سټنډرډ له ملي ادارې څخه مننه کوم چې د سټنډرډ ملي سټراتژيک پلان يې تدوين کړی دی او هيله لرم چې د دې سټراتيژۍ په پلي کولو سره به پوره ته موخو ته ورسېږو.

سرور دانش

د افغانستان اسلامي جمهوري رياست دويم مرستيال

او د سټنډرډ عالي شوری رييس

۲۷ جوزا ۱۳۹۸



## د سټنډرډ ملي ادارې (انسا) د ۱۳۹۸-۱۴۰۲ سټراټیژیک پلان

د افغانستان اسلامي جمهوریت د ملي وحدت حکومت د افغانستان سولې او پرمختیا ملي چارچوب د سند موخو ته په کتو د غوره حکومتولۍ، اقتصادي پراختیا او د ژوند د کیفیت د ښه والي لپاره د یو لړ اصلاحاتو په ټولګه لاس پورې کړی. د افغانستان سولې او پرمختیا ملي چارچوب سند په حقیقت کې د خلکو د هوساینې د کچې لوړولو او د دې هېواد ځان بساینې ته د لاس رسي پلان دی. په دې پلان سره هڅه کېږي، ترڅو د یوه غښتلي اقتصاد بنسټ کېږدو. داسې اقتصاد چې وکولای شي خلکو ته د کار او بوختیا زمینه برابره کړي. د سټنډرډ ملي اداره هڅه کوي چې له ملي او نړیوالو ارګانونو سره د سټنډرډ جوړونې او په ډېرې چټکیا سره په هېواد کې د سټنډرډ له پلي کولو څخه د څار د یوائېنۍ سرچینې په توګه نړدې کار وکړي او د ژوند د کیفیت لوړوالی، د بنسټیزو پروګرامونو له تولیدوونکو او مصرف کوونکو څخه ملاتړ لکه؛ د سټنډرډ برابرول، د مطابقت ارزونې خدمتونه (څېړنه، لابراتواري ازمېښت او تصدیقنامه) او د مټرولوژۍ چوپړتیاو ( وزن او کچه) په خپل عمل پلان کې شامل کړي، ترڅو له همدې لارې سوداګرې اسانه او اقتصادي پرمختګ پیاوړی کړي چې په پایله کې د روغتیا، خوندیتوب، چاپېریال ساتنې او د افغانستان د خلکو د هوساینې سبب وګرځي.

د سټنډرډ ملي ادارې سټراټیژیک پلان د سټنډرډ جوړونې د قوانینو او د افغانستان سولې او پرمختیا ملي چارچوب د سند د موخو پر بنسټ چمتو شوی او هدف یې د افغاني ټولنې او په ځانګړې توګه د تولیدي سکټور د وضعیت د ښه والي په موخه د کیفیت د ملي بنسټ د تطبیق او پرمختیا لپاره د روښانه لارې د نقشې برابرول دي. د غوره او ډېرو سټنډرډونو درلودل، د سوداګریزو مالونو (وارداتي او صادراتي) تولیدي محصولاتو او خدماتي پروسو د کیفیت غوره والی، د ملي او اقتصادي سرچینو څخه د اغېزمنې ګټه اخیستنې لپاره د مصرفي نورم تثبیت، د مصرف کوونکو خوندیتوب او روغتیا تامینول او د چاپېریال ساتنه، د سټنډرډ جوړونې، مټرولوژۍ او د مطابقت ارزونې په پروسه کې د ګډون لپاره د خصوصي سکټور هڅول او فعالیت ته یې د زمینې برابرول د دې پلان ګټه ده. د سوداګرۍ د نړیوال مرکز له ملي او نړیوالو متخصصینو، اروپایي اتحادیې او د دې ادارې له کار کوونکو څخه ډېره مننه کوم چې د دې سټراټیژیک پلان په طرح او وده کې یې فعاله ونډه اخیستې ده.

د سټنډرډ ملي ادارې د سټراټیژیک پلان د موخو د تطبیق په هدف د همکار ټیم د لا زیاتو بریالیتوبونو په هیله.

په درنښت

ډاکټر محمد موسی عَلَمي

## لړليک

١. پېيل

٢. د موجوده وضعيت تحليل او مطالعه

٢،١. د داخلي عواملو تحليل

٢،١. د داخلي عواملو تحليل

٣. عموميات

۴. ستراتيژيکې موخې

۵. د پاليلو مديريت

۶. د اغېزمنې ستراتيژۍ د تطبيق لپاره د برياليتوب مهم عوامل

۶،١. د تطبيق د مديريت وړتيا

۶،٢. د خصوصي سکتور ملاتړ او ګډون

۶،٣. د غښتلو اړيکو او خبرو اترو تامينول

۶،۴. د تطبيق سرچينې

٧. د هېواد د اقتصاد او مصرف کوونکو لپاره د دې ستراتيژۍ د تطبيق ګټې

٧،١. د کورنيو توليداتو (GDP) په وده کې د کيفيت ملي بنسټ او د هغو برخه

٧،٢. په افغانستان کې د کورني مارکېټ، مصرف کوونکو، چاپېريال، خونديتوب او روغتيا ساتنه

٧،٣. د تخنيکي مقرراتو او خطرونو د ارزونې لپاره وړ دولت

٧،۴. په يوه انعطاف منونکي او مناسب چاپېريال کې سوداګري

٧،۵. په صادراتو کې زياتوالی

٨. هيله لرونکې اغېزې او پايلې

## ۱. سریزه

د راکړې ورکړې (Trade) په تګلاره کې بدلونونو ته په کتو د نړیوال ارزښتناکه ځنځیر او د ګډو ګوابنونو (چاپیریال ساتنه) له لارې په نړیواله کچه د ثابتو حل لارو لټول خورارا ارزښت لري، څو د نوې ټکنالوژۍ او نوښت لپاره د پراختیا زمینه برابره کړي. په نړیوالې سوداګرۍ کې د راکړې ورکړې د پراختیا او ودې د مهمو عواملو په توګه د مطابقت ارزونې او ستندرډ جوړونې پر ارزښت زیات تاکید شوی دی. د سوداګرۍ له نړیوال سازمان (WTO) سره د افغانستان په الحاق کېدو په کورنۍ کچه د اقتصاد یو نوی عصر منځ ته راغلی دی. د افغانستان د ستندرډ اداره (انسا) باید له دې فرصت څخه ګټه واخلي، څو د ستندرډ جوړونې، مطابقت ارزونې، مترولوژۍ، ساینسي، صنعتي او حقوقي چوپړتیاوې په ګټوره او اغېزناکه توګه وړاندې شي او په پایله کې د سوداګرۍ د غوراوي او پیاوړتیا له لارې د مصرف کوونکو د باور په زیاتولو او د عامو خلکو لپاره د احتمالي خطرونو کچه وروستي حد ته رسولو سره اقتصادي زمینه برابره شي.

د دې لپاره چې افغاني محصولات او چوپړتیاوې ښه بازار ومومي او د سیمې په کچه سیالي وکړای شي، مهمه ده چې دا محصولات او چوپړتیاوې خوندي، کیفیت لرونکي او په نړیوالو ستندرډونو او مقرراتو برابر وي. د ملي کیفیت بنسټ پیاوړتیا د افغاني محصولاتو او خدمتونو د ودې او د کوچنیو او منځنیو تشبثاتو (SMEs) لپاره بالقوه ظرفیت برابروي، څو دغه تشبثات ځان له سیمییزو او نړیوالو بازارنو سره عیار کړي چې په پایله کې په افغانستان کې د کرنیز اقتصاد د ودې سبب ګرځي.

افغانستان د اقتصادي سیالۍ او د سیمییز او صادراتي بازار له شرایطو سره برابر د بېلا بېلو محصولاتو او خدمتونو د لرلو له لارې پر منځني او یا لوړ عاید لرونکي هېواد د بدلېدو هیله لري. د صادراتو عواید یوازې هغه وخت زیاتوالی مومي چې افغاني محصولات او خدمتونه په موجود بازار کې خپل ارزښت خوندي کړي او د نوو او مختلفو ارزښتناکه محصولاتو او چوپړتیاو له لارې نوي بازارونه لاسته راوړي. د وریښمو او لاجوردو لارو د بیا فعالېدلو له لارې د جنوبي اسیا د سوداګریز مرکز په توګه د افغانستان بدلېدل په یو شمېر ملي پرمختیایي پروګرامونو لکه د کیفیت کراس سکټور ستراتیژي، د سوداګرۍ په وړاندې تخنیکي خنډونه (TBT) روغتیا ساتنه او نباتي روغتیا ساتنه (SPS) او د کیفیت د ملي بنسټ د ستراتیژیک پلان په تطبیق (NQI) پورې تړلی دی.

د دې لپاره چې انسا ادارې دې لوړو موخو ته په رسېدلو کې خپله ونډه اخیستې وي، دې ادارې د لومړیتوبونو درې ساحې پېژندلې دي چې د تقاضا او عرضې په دواړه بعُدونو کې پر پالیسۍ، حقوقي چارچوب او حقوقي موادو د تمرکز درلودونکې دي. په دې توګه په دې ستراتیژۍ کې لاندې اړین موارد مطرح شوي دي: د کیفیت په ملي

بنسټ پورې اړوند د پاليسۍ او حقوقي چارچوب بيا کتنه، د ظرفيت لوړاوي د اړتياو تشخيص او دا چې د کيفيت ملي پاليسۍ د پراختيا متخصص کار کوونکي د عمل پلان د تطبيق په موخه زده کړه وکړي او وګمارل شي.

په ستراتيژيکو مسايلو کې يو هدفمند او متمرکز ګام د کيفيت د ملي بنسټ د تطبيق لپاره اسانتيا برابروي او په افغانستان کې د چاپېريال د خونديتوب، ساتنې او کيفيت د زياتوالي سبب ګرځي. دې موضوع ته په کتلو د انسا اداري لاندې ليدلوري منلي دي: "د ستندرډ ملي اداره (انسا) د ستندرډونو، د مطابقت ارزونې خدمتونو (ځېړنه، د لابراتوارونو ارزېښت او منښتليک) او د مترولوژۍ د مهارتونو د برابرولو يوازينۍ سرچينه ده چې د سوداګرۍ لپاره اسانتيا راولي او متداوم اقتصادي پرمختګ غښتلی کړي چې په پای کې د روغتيا د ښه والي، خونديتوب او د افغانستان د خلکو د هوساينې سبب کېدای شي او د چاپېريال ساتنې لپاره په هڅه کولو کې خپله برخه واخلي."

د انسا ستراتيژيک پلان (۱۳۹۸-۱۴۰۲) د کيفيت ملي پاليسيو ته په کتو چمتو شوی دی او موخه يې د افغاني ټولنې او په ځانګړې توګه د توليدي او صادراتي سکتور د ښه والي په هدف د کيفيت د ملي بنسټ د ايجاد او ودې لپاره د لارې د نقشې برابرول دي. د دې ګټه به د غوره او ډېرو ستندرډونو درلودل او په نړيواله کچه د مطابقت ارزونې خدمتونو ته په اسانه توګه لاس رسی درلودل وي.

دا ستراتيژي به د ستر کچر د همغږۍ د ښه والي، مقرراتو او بودجوي پلان جوړونې له لارې د انسا له فعاليتونو څخه د ملاتړ په موخه اړين بدلونونه را منځ ته کړي چې په عامه او خصوصي سکتورونو کې د لابراتواري ټستونو د زياتوالي له باور څخه په ګټه اخيستنې سره د مطابقت ارزونې پياوړتيا، په نړيواله کچه د متقابلې پېژندګلوۍ پراختيا، د مترولوژۍ د فعاليتونو پياوړتيا او د تخنيکي مقرراتو بيا ليدنه په کې شامله ده.

دا ستراتيژي د ښکاره ليدلوري، ستراتيژيکو موخو او د عمل پلان او مداخلې لپاره د ستراتيژيکو سيمو درلودونکې ده. ستراتيژيکې موخې په عمومي ډول په درېيو سطحو کې تنظيم شوې دي چې په ملي کچه د سيستمونو تقويت، نړيواله پېژندګلوي او پذيرش او د پوهاوي لوړوالی په کې شامل دي. په هره سيمه کې ګټه اخيستونکي او دخيل ارګانونه او همدا راز مقررات او د هر فعاليت لپاره د اړتيا وړ بودجه ټاکل شوې ده. د عمل پلان په برخه کې د هرې ستراتيژيکې موخې د لاسته راوړلو لپاره د اړتيا وړ فعاليتونه روښانه شوي دي. د لا ډېرې اسانتيا په موخه دا ستراتيژي د يوه عمل پلان درلودونکې ده، څو د ستراتيژۍ د بريا په موخه هغه ګامونه او فعاليتونه چې په سمه توګه ترسره کېږي، مشخص کړي.

## ۲. د موجود وضعیت تحلیل او مطالعه

### ۲،۱. د داخلي عواملو تحلیل او مطالعه

**۲،۱،۱. د پیاوړتیا ټکي:** د بشري سرچینو غوره ځواک، تجربه لرونکي کار کوونکي، په زده کړیزو وسایلو سنمبال د مجهز او عصري زده کړیز مرکز درلودل، د ستنډرډ جوړونې د قانون درلود، د محصولاتو د صادراتي ارزښت د لوړاوي لپاره د ستنډرډ د نښې شتون، د ستنډرډ په عالي شورى کې د ادارې غړیتوب، د اقتصاد عالي شورى او د وزیرانو شورى د انسا ادارې د قوت ټکي بلل کېږي.

نړیوالو ستنډرډونو ته په کتو د ۶۱۷ ملي ستنډرډونو تدوین، د نفتي موادو، ساختماني او مترولوژي په برخه کې د لابراتوارونو تجهیز او د لابراتوارونو ازمویل، د عوایدو د ټولولو په موخه د ملي سیستم را منځ ته کول او د ادارې د موخو د تحقق لپاره د تشکیلاتي جوړښت دلودل د ادارې اساسي لاسته راوړنې بلل کېږي.

**۲،۱،۲. د کمزورتیا ټکي:** مخکینیو اجراتو ته په کتو اداره یو څه له ستونزو سره مخ وه چې له دې ډلې یې د ځینو کمزورتیاو نوموته اخلو؛ د کار کوونکو لپاره د کافي معاش نه شتون، د مکافاتو او مجازاتو سیستم نه درلودل، د تطبیق وړ ستراتیژیک پلان او پالیسۍ نه درلودل، د ادارې د فعالیتونو په اړه د عامه پوهاوي د پروګرامونو نه شتون، د ادارې د کاري واحدونو تر منځ په اجراتو کې د کافي همغږۍ نه شتون، د ساختماني، برق او غذایي موادو د لابراتوارونو فعالیت نه درلودل، د ملي ستنډرډونو د تطبیق له پروسې څخه د څار د پیاوړي واحد نه شتون او د ملي ستنډرډونو، د مطابقت ارزونې او مترولوژۍ د تطبیق په برخه کې د حقوقي اسنادو نه درلودل د ادارې کمزوري ټکي دي.

### ۲،۲. د باندینیو عواملو مطالعه او تحلیل

**۲،۲،۱. فرصتونه:** اداره د خپل فعالیت په پیل کولو د ټاکل شوو موخو لپاره د نافذه تقنیني اسنادو په مطابقت سره توانېدلې ده چې د (SARSO, IEC, RISCAM, ISO, SMIIC) سیمییزو او نړیوالو سازمانونو غړیتوب ترلاسه کړي. دا د دې لامل شوې ده چې په سیمییزه او نړیواله کچه د ستنډرډ جوړونې له غوره تجربو څخه پوهاوی ترلاسه کړي. د وزن او کچې ( په ملي او نړیواله کچه مترولوژي) د بحث مطرح کېدل، د دې ادارې په کاري برخه کې د نویو تجربو د انتقال په موخه د همکاره هېوادونو او نړیوالو سازمانونو د تخنیکي او مالي ملاتړ جذب او د ستنډرډونو د طرح او تطبیق لپاره د حکومت د رهبرۍ او په ځانګړې توګه د ستنډرډ عالي شورى ملاتړ له هغو مواردو څخه دي چې ویلی شو، دغه اداره له دې ډول فرصتونو څخه برخمنه ده. سربېره پر دې حکومت د صادراتو پر پراختیا جدي تاکید لرلی دی او د هوایي دهلېزونو او سوداګریزو لارو (وربېښمو، لاجورد او نورې) د پرمختګ لپاره یې هر اړخیزه هڅې کړې دي. دې موخې ته د

رسېدلو لپاره په ستنډرډ جوړونې پورې اړونده چوپړتیاو ته لکه؛ د کیفیت ښه والی، د تصدیقانومو ترلاسه کول او د معتبرو لابراتواري خدمتونو ته په بشپړه توګه اړتیا احساسېږي. دې ته په پام چې تر اوسه خصوصي سکټور د مطابقت ارزونې خدمتونو په برخه کې د پام وړ فعالیت نه دی لرلی، په دې اساس د انسا د خدمتونو لپاره ډېر غوره مارکېټ موجود دی چې کولای شو، هغه د دې ادارې د فعالیتونو د پراختیا لپاره یو فرصت وګڼو.

**۲،۲،۲. ګواښونه:** وظیفوي تداخل او د موازي ادارو را منځ ته کول، د هېواد په کچه امنیتي ګواښونه چې د ولایتونو په کچه د فعالیتونو د وروسته پاتې کېدو سبب ګرځي، د تصویب شوو ستنډرډونو او د ستنډرډ جوړونې د قانون د تطبیق په برخه کې د مافیایي ډلو موجودیت اداره له ګواښ سره مخ کړې ده.

## ۳. عمومیات

**۳،۱. لیدلوری:** د ستنډرډونو د برابرولو کلي سرچینه د مطابقت ارزونې خدمتونه (څېړنه، لابراتواري ازمېښتونه او تصدیق نامه) او د مترولوژۍ مهارتونه دي، څو سوداګرۍ ته اسانتیا ور وبښي او دوامداره اقتصادي پرمختګ پیاوړی کړي چې په پایله کې د افغانستان د خلکو د هوساینې، خوندیتوب او د روغتیا د ښه والي سبب ګرځي او په چاپېریال ساتنه کې خپل رول لوبوي.

**۳،۲. ماموریت:** د ستنډرډ ملي اداره د قوانینو او پالیسیو په طرح او تطبیق، د ستنډرډونو تدوین او ترویج، د مطابقت ارزونې د خدمتونو وړاندې کول، د مترولوژۍ د ملي سېستم پرمختیا، د لابراتوارونو د ملي شبکې ایجاد او په هېواد کې د کیفیت د ملي بنسټ زده کړې او څېړنې پیاوړې کړې دي او کورنیو او نړیوالو مارکېټونو ته د افغاني محصولاتو او خدمتونو په لاس رسي کې اسانتیا را منځ ته کوي. د انسا تطبیقي دندې (regulatory) به د خوندیتوب او سالمې سیالۍ تضمین کوونکې وي.

**۳،۳. د ستنډرډ ملي ادارې (انسا) موخې:** د ستنډرډ ملي اداره (انسا) د افغانستان د اسلامي جمهوري دولت په اساسي تشکیلاتو کې د یوې خپلواکې ادارې په توګه د دوه اساسي موخو لپاره فعالیت کوي.

- د کیفیت د ملي بنسټ ایجاد او پیاوړتیا
- په هېواد کې ستراتیژیکو موخو (اقتصادي پرمختیا او د صادراتو پراختیا) ته د افغانستان د اسلامي جمهوري دولت د لاس رسي اسانتیا

**۳،۴. ارزښتونه:** انسا اداره د افغانستان حکومت له لوري د یوه مسلکي ارګان په توګه د ملي ستنډرډونو د پراختیا، د مترولوژۍ د ملي سېستم را منځ ته کولو او همدا رنګه د مطالقت ارزونې د خدمتونو د وړاندې کولو لپاره موظف شوې ده چې لاندې اساسي ارزښتونو ته ژمنه ده:

- **تخصص:** مونږ تخصص ته ارزښت ورکوو او په دوامداره توګه د ملکي تخصصي سطحې د لوړولو لپوالتيا لرو چې ګام په ګام له پرمختګونو سره په حرکت کې وي.
- **ژمنتيا:** مونږ د کارمندانو د لېوالتيا او ژمنتيا له لارې په خپل کار کې د يوې ثابتې او مثبتې تګلارې تضمين کوونکي يو.
- **بې طرفي:** مونږ د انسا ادارې د بې طرفۍ له اصل څخه ساتنه کوو، څو ډاډه شو چې له سوداګريزو او عامه برخو سره يو ډول چلند کېږي.
- **شريک کول:** پيريدونکي ته ارزښت ورکول زمونږ ژمنه ده. مونږ د دوی د غږ اوريدلو په موخه د شريک کولو او متقابل احترام يوه تګلاره را منځ ته کړې ده او د خپلو معاملو په مقابل کې نورو ته ځواب ويونکي يو.
- **په خپلو کړنو وياړ:** مونږ په خپل کار وياړ کوو، هر مسوول شخص بايد په خپل کار کې د معيارونو له عالي درجو څخه برخمن وي.

## ۴. ستراتیژیکې موخې

**لومړۍ ستراتیژیکه موخه**: د سازماني اصلاحاتو تطبیق، د حقوقي چارچوب پراختیا، د تخنیکي او مدیریتي وړتیا لوړوالی او د نړیوالو اړیکو پراختیا.

د انسا اداري اوسني اداري جوړښت د اداري د اساسي دندو ملاتړ نه دی کړی او په حمایوي (اداري) برخه کې تشکیلاتي تورم لیدل کېږي. تخنیکي او مدیریتي ظرفیت اوس هم د اړتیا وړ خدمتونو د وړاندې کولو لپاره د انسا اداري یو له عمده ګواښونو څخه شمېرل کېږي. یو شمېر حقوقي اسناد باید پراختیا ومومي، څو د تطبیقي (regulatory) خدمتونو او فعالیتونو لپاره یو غښتلی قانوني بنسټ را منځ ته شي.

د انسا اداري او په ټوله کې د کیفیت د ملي بنسټ پر فعالیتونو د اغېز د ښه والي په موخه د سترکچر او همغږۍ پیاوړتیا له هغو مهو مواردو څخه دي چې باید کار پرې وشي. په دې توګه لومړۍ ستراتیژیکه موخه د ملي کیفیت شورې د پروګرام جوړونې، تنظیم، لارښوونې، همغږۍ، څارنې او د ملي کیفیت پالیسۍ د ټولو فعالیتونو د لوړاوي په برخه کې د فعاله رول درلودلو په موخه د انسا اداري د ظرفیت په پیاوړتیا تمرکز کوي. لکه څنګه چې د کیفیت په ملي پالیسۍ کې راغلي دي؛ د کیفیت ملي شورې به د ولسمشر د مرستیال په مشرۍ په لوړه سیاسي کچه را منځ ته شي. دا حکومتي سرچینه به د ډېرې هغو فعالیتونو په تنظیم او مدیریت کې مرسته وکړي چې په دې ستراتیژۍ کې یاد شوي دي. دې ستراتیژیکې موخې ته په کتو اړتیا ده چې موجوده حقوقي اسناد او الزامي چهارچوب په بشپړه توګه بیا وکتل شي او د انسا اداري د ظرفیت جوړونې او تشکلاتي جوړښت موضوع لاندې ټکو ته په کتو په نظر کې ونیول شي.

- د اداري تشکیل د معیاري جوړونې په موخه د انسا اداري د سترکچر بیا کتنه
- د کیفیت ملي بنسټ په ټولو سیمو کې د معاصرې ټکنالوژۍ او زده کړې د لېږد په موخه د ظرفیت لوړونې (تخنیکي، مدیریتي او د ژبو مهارت) د کلي پروګرامونو طرح او تطبیق
- د کیفیت ملي بنسټ او تخنیکي مقررېو رژیم د چهارچوب تجدید، بیا کتنه او پراختیا
- له نړیوالو هېوادونو او سازمانونو سره د اجراتو د چټکوالي په موخه د تړونونو لاسلیک او د اړیکو پراخوالی

**دویمه ستراتیژیکه موخه**: له نړیوال سوداګریز سازمان (WTO) او د ستندرډ نړیوال سازمان (ISO) له اصولو سره سم د ستندرډ جوړونې د ملي سېستم پرمختیا

د ستندرډ جوړونې ملي سېستم باید هغو نړیوالو منل شوو ستندرډونو ته د ملي اړتیا و ځواب ویونکی وي چې د ګډو اړخونو د خوښې او توافق پر بنسټ تدوین شوي وي. دغه سېستم باید د ستندرډ جوړونې په سیمییزو او نړیوالو فعالیتونو او همدا رنګه له یادو ستندرډونو سره په یو شانتنه والي کې د انسا اداري له ګډون څخه ملاتړ وکړي.

ستنډرډونه کولای شي چې د ممکنه پلورونکو او پېرېدونکو تر منځ د نهايي محصولاتو او خدمتونو د راکړې ورکړې لپاره د تخنيکي سرچينې او يا هم د تخنيکي مقرراتو سره برابر د اسانتيا په ډول په کار يوړل شي. تشبثات له ستنډرډونو څخه په توليد، محصولاتو، خدمتونو او چاپېريال ساتنه کې ګټه اخلي. ستنډرډونه د يوې شفافې پروسې او د هغه توافق په اساس پراختيا مومي چې ټولو لېواله اړخونو په کې ګډون کړی دی او د محصولاتو کارونه، پروسې او چوپړتياوې د مشخصو موخو لپاره تعريفوي. د ارګانونو د مدېريتي سېسټم ستنډرډونه د فعاليتونو په مديريت کې مرسته کوي. له ستنډرډونو څخه پراخه ګټه اخيستنه په ټولنه کې د کيفيت د فرهنګ د پراختيا شرط ګڼل کېږي.

د ملي ستنډرډونو او نړيوالو ستنډرډونو چې انسا يې غړيتوب لري، اړينه ده چې له همغږۍ څخه يې انسا اداره ډاډ ترلاسه کړي. که څه هم د ستنډرډ ملي اداري د ستنډرډونو د چمتووالي، اقتباس او رعايت (د سوداګرۍ د تخنيکي خنډونو د هوکړه ليک درېيمه ضميمه) کوډ په رسمي توګه ترلاسه کړی دی، مګر په اوسنۍ تګلاره کې د دې اصولو عملي تطبيق اساسي اصلاحاتو ته اړتيا لري.

- د عمل پلان طرح کول
- هغو سکتورونو ته په کتو چې د ملي صادراتو په ستراتيژۍ کې د صادراتو لپاره لومړيتوب لري او په همدې توګه هغه سکتورونه چې د وارداتو د بديل لپاره بالقوه ظرفيت لري، د ملي ستنډرډونو د پراختيا لپاره د اړتياو په اساس د عمل پلان طرحه کول.
- په ټول هېواد کې د ملي ستنډرډونو د پرمختيا او تدوين په پروسه کې د ټولو دخيلو او لېواله اړخونو د ګډون اسانتيا
- په نړيوالو تخنيکي کمېټو کې د ګډون او په هېواد کې د ننه په ځارګرو کمېټو کې د بحث له لارې د ستنډرډ جوړونې د فعاليتونو پياوړتيا
- له سيمييزو او نړيوالو ستنډرډونو سره د ملي ستنډرډونو سمون
- دولتي او خصوصي غوښتونکو سرچينو ته د ساختماني ملي ستنډرډونو او کوډونو وېش

**درېيمه ستراتيژيکه موخه**: د نړيوال شناخت د ترلاسه کولو او غوره مارکېټونو ته د افغاني محصولاتو او خدمتونو د لاس رسي د ملاتړ لپاره د مطابقت ارزونې د خدمتونو لکه؛ څېړنه، لابراتواري ازمېيښتونه او منښتليک وده

د مطابقت ارزونې هغه چوپړتياوې چې په نړيواله کچه د منلو وړ وي، کولای شي په کورنيو، سيمييزو او نړيوالو مارکېټونو کې د افغاني خدمتونو او محصولاتو لپاره د سيالۍ په ظرفيت کې ښه والی راولي. د لوړ باور والا منښتليکونه کولای شي، غوره مارکېټونو ته د افغاني صادراتو په لاس رسي کې اسانتيا راولي. له لابراتواري

ملي شبکې سره یو ځای د لابراتواري ملي کامپلکس ایجاد او پرمختګ کولای شي، د کیفیت ملي بنسټ کې د موجوده فعالیتونو ملاتړ وکړي.

د ستندرډ ملي اداري نړیوال شهرت د افغانستان د مطابقت ارزونې پر خدمتونو د باور د ټینګښت سبب ګرځېدلی دی او د سوداګرۍ او صنایعو لپاره د خنډونو د له منځه وړلو لامل ګرځي. په دې توګه دا ستراتیژیکه موخه د انسا د مطابقت ارزونې د خدمتونو د ارتقا، غوراوي او پرمختګ په موخه د افغانستان د سوداګریزو شریکانو د متقابلې پېژندګلوۍ او په عمده بازارونو کې د خصوصي سکتور د فعالیتونو د معرفت هوکړه لیک ته د رسېدو لپاره د اعتبار ورکونې د ملي ارګان څخه د ملاتړ او باور لیک د ترلاسه کولو په هدف طرح شوې ده.

- د مطابقت ارزونې د باور لرونکو خدمتونو پیاوړتیا چې انسا اداره یې عامه او خصوصي سکتورونو ته وړاندې کوي.
- د محصولاتو او مدیریتي سېستمونو په موخه د منښتلیکونو د وړاندې کولو لپاره له ستندرډونو او د ستندرډ د نړیوال سازمان له لارښود سره سم د منښتلیک د واحد ایجادول. انسا اداره به یوازینی حکومتي ارګان وي چې د اختیاري منښتلیکونو د صادرولو په برخه کې فعالیت کوي.
- په لومړیتوب لرونکو سیمو (نفتي مواد، ساختماني او جیوتکنیکي مواد، غذایي مواد، نساجي، برېښنا او...) کې له مجهزو لابراتوارونو سره یو ځای د لابراتواري ملي کمپلکس ایجاد. لابراتواري ملي کمپلکس کولای شي د تطبیقي (regulatory) اداري او یا د دې په استازیتوب د لابراتواري ازمېښتونو خدمتونه او همدارنګه کنټرولي (عدلي) ازمېښتونه ترسره کړي. په همدې توګه د ستندرډ ملي اداره به په هېواد کې په خصوصي او عامه لابراتوارونو کې د ظرفیت د پیاوړتیا او د اعتبار لرونکو لابراتواري ازمېښتونو تشویق په موخه د لابراتوار ملي شبکه رهبري کړي.
- له ملي اعتبار ورکوونکو ارګانونو سره د دندو په ترسره کولو او د مطابقت ارزونې خدمتونو په نړیوال شناخت کې همغږي او همکاري (د متقابل شناخت منښتلیکونه)
- د اړونده ستندرډونو او اړتیاو له تطبیق څخه د ډاډ د ترلاسه کولو په موخه د څېړنې د اغېزناک سېستم پرمختګ
- د ملي لابراتوارونو د بنسټ د ایجاد په موخه د خصوصي او عامه سکتور د مشارکتي پانګونې لپاره د روښانه مېکانېزم طرحه کول

**څلورمه ستراتیژیکه موخه:** د مترولوژۍ، حقوي او علمي مترولوژۍ د ملي سېستم پرمختیا

د مترولوژۍ ملي سېستم باید په هېواد کې د اندازه کولو د واحد سېستم برابر کړي، څو سوداګري، مصرف کوونکي او د خلکو له روغتیا او خوندیتوب څخه ملاتړ وکړي. د واحداتو د نړیوال سېستم (SI) تطبیق کولای شي، د توکو دقیق کیفیت یقیني کړي.

د سټنډرډ ملي اداره (انسا) به د ملي اړتیاو پر بنسټ د مټرولوژۍ ملي سیسټم را منځ ته کړي. د مټرولوژۍ د برخې د فعالیت پراختیا، جوړښت او دندې به د ټولنې، صنایعو او ساینس په اړتیاو پورې اړوندې وي. د علمي مټرولوژۍ اصلي دنده به د علمي څېړنو پرمختګ، د اندازه کولو پر سټنډرډونو او د اندازه کولو د سټنډرډونو پر ټکنالوژۍ (د اندازه کولو د تازه تخنیکونو او تازه سټنډرډونو پرمختګ) کار کول وي او همدارنګه بله اصلي دنده به یې د اندازه کولو د نړیوالو واحداتو (SI) تحقق، خوندیتوب او تکثیر وي چې په ملي کچه د موندنې زمینه برابروي. د علمي مټرولوژۍ په برخه کې به د عیارولو خدمتونو شعبه هم را منځ ته شي. د دې شعبې اساسي موخه به صنعتي برخو او حکومتي ارګانونو ته د عیارولو د خدمتونو وړاندې کول وي.

حقوقي مټرولوژي به د ډاډ ترلاسه کولو، باور، کیفیت او په روغتیا، خوندیتوب، چاپېریال، سوداګري او له مصرف کوونکو څخه د ملاتړ اړونده سیمو کې د ټولو اندازه ګیریو د یو شانتنه والي تایید، تصدیق او د کنټرولي فعالیتونو مسوولیت په غاړه ولري.

- د حقوقي مټرولوژي سیسټم لپاره د حقوقي او سازماني چهارچوب ایجاد
- په لومړیتوب لرونکو سیمو کې د مټرولوژۍ د ملي لابراتوار ایجاد چې د عیارولو چوپړتیاوې به هم وړاندې کوي
- د سیمییزو او نړیوالو سازمانونو لکه BIPM, OIML په پروګرامونو او فعالیتونو کې ګډون او په نړیوالو سیسټمونو د افغاني کچې او وزنونو د موندنې له قابلیت څخه د ډاډ ترلاسه کول
- د هېواد په ګوټ ګوټ کې په هر ډول سوداګریزو معاملو او راکړه ورکړه کې د اندازه کولو د رسمي واحد په توګه د مټریک یا SI سیسټم معرفي
- د اندازه کولو د وسایلو او عیارولو له لارې د مارکېټ کنټرول او څار او د هغوی د صلاحیت تاییدول، په ځانګړې توګه د تلې (عادي او ډیجېټل) وزني ډبرې، د حجمي اندازه کولو وسایلو او نورو په برخه کې
- یوائځې د وزنونو او کچې لکه (د تولیدي او وارداتي شرکتونو ثبت او راجسټر او د ټولو جوازونو موندل او تعقیبول) په برخه کې د یوه معلوماتي مرکز یا ډیټابیس ایجاد

**پنځمه سټراټیژیکه موخه**: د کیفیت ملي بنسټ په برخه کې د څېړنیزو، زده کړیزو او پوهاوي جامع پروګرامونو طرح او تطبیق.

معلومه ده چې هېڅ کوم هېواد نه شي کولای چې د هغه هېواد په جغرافیوي، ټولنیز، کلتوري او اقتصادي وضعیت پورې له اړوندې اغېزناکې علمي څېړنې پرته د انساني ژوند د کیفیت د ښه والي، تلپاتې پراختیا او پرمختګ شاهد و اوسي. په همدې دلیل د ظرفیت د پراختیا په موخه، په هېواد کې د ژوند د کیفیت د ښه والي د یوائځیني څېړنیز او زده کړیز مرکز په موخه د ملي معیاري او کار وړ سټنډرډونو تدوین، د تولیدي، توریدي او تولیدي

محصولاتو د کیفیت د ښه والي په موخه د علمي څېړنو ترسره کول، په بېلا بېلو برخو کې مسلکي کارکوونکو ته زده کړه او د کنفرانسونو د جوړولو په موخه دې زده کړیز او څېړنیز انستیتوټ را منځ ته شي.

د هېواد تولیدي، توریدي او صادراتي توکو ته په کتو اړینه ده چې څېړنیز انستیتوټ ایجاد شي او د څېړنو په ترسره کولو سره ملي ستندرډونه تدوین، ور او علمي تګلارې تشخیص، علمي کنفرانسونه، غونډې او خبرې اترې وړاندې شي، د کارکوونکو د وړتیا لوړولو لپاره زمینه برابره او له ملي او نړیوالو څېړنیزو ارګانونو سره اړیکې را منځ ته شي.

د پوهاوي نشتون د ستندرډ جوړونې، د کیفیت په ملي بنسټ پورې د اړونده خدمتونو ارزښت او پر دې باندې کار کول او له ستندرډونو څخه ګټه اخیستنه له خنډ سره مخ کړې ده. یو شمېر متخصصینو ته د ترویج، د تخنیکي ملاتړ چمتووالي او د کیفیت د التزاماتو له تطبیق څخه څارنه چې د مارکېټ یا مقرراتي سېستم په اړتیاو کې انعکاس کوي، باید زده کړه ورکړل شي.

د سیالۍ د ظرفیت په ښه والي، کورني او نړیوال مارکېټ ته په لاس رسۍ پورې اړونده ګواښونو باندې برلاسي او د پیریدونکو د باور ترلاسه کولو له لارې د سوداګریزو فعالیتونو له دوام څخه د ډاډ ترلاسه کولو په اړه د ستندرډ جوړونې او کیفیت په برخه کې د کافي پوهاوي نشتون اوس هم په هېواد کې د ستندرډونو د تطبیق او د کیفیت فرهنګ په وړاندې یو اساسي ګواښ ګڼل کېږي. د مارکېټ او په ټاکلو مارکېټونو کې د تخنیکي مقرراتو په اړه د اړتیا وړ معلومات په اسانه ډول خصوصي سکټور ته د لاس رسي وړ نه دي او د دغه ډول معلوماتو د وړاندې کولو لپاره باوري سرچینه شتون نه لري. دا ستونزه په امریکایي او اروپایي مارکېټونو کې د افغانستان د صادراتو د رد یا منلو له اساسي عواملو څخه بلل کېږي. د کیفیت اړتیا باید د محصولاتو او خدمتونو د کیفیت د بېلابېلو اړخونو په اړه خلکو ته د زده کړو له مخې را منځ ته شي.

- په ستندرډ ملي اداره کې د زده کړیز او څېړنیز مرکز ایجاد او په بنسټیزو او سازماني اړینو جوړښتونو سره ملي انستیتوټ ته د هغه ارتقا او د اړینو ملي او بشري سرچینو تخصیص
- د کیفیت په ملي بنسټ پورې اړوند په بېلا بېلو برخو کې د څېړنیزو پروګرامونو طرح او تطبیق
- د ستندرډ په اړه د زده کړو او پوهاوي د کلي پروګرامونو طرح او تطبیق چې لنډمهاله او منځ مهاله پروګرامونه به په کې شامل وي
- د ملي او نړیوالو ورځو لمانځل او په هېواد کې د کیفیت د فرهنګ د ترویج لپاره د (کیفیت جایزه) معرفي کول

**شپږمه ستراتيژيکه موخه**: د سوداګرۍ په وړاندې د تخنيکي خنډونو د کمېټې او د نړيوال سوداګريز سازمان (WTO/TBT) د هوکړې پر بنسټ له تطابق څخه د ډاډ ترلاسه کولو په موخه د انسا د تخنيکي مقرراتو د سېسټم (regulatory) اصلاح او پياوړتيا

د مقرراتو تخنيکي سېسټم بايد د تطبيقي ګواښونو د ارزونې، د سوداګرۍ لپاره له غير اړينو خنډونو څخه د اجتناب، د معادلاتو د سېسټم اسانتيا او له خدمتونو او محصولاتو څخه د ډاډ پر بنسټ پرمختګ وکړي.

انسا اداره د يوې تطبيقي (regulatory) برخې لرونکې ده چې اساسي دنده يې د اړونده تخنيکي مقرراتو پر بنسټ د خونديتوب له مخې د توليدي او وارداتي توکو (له خوراکي موادو او درمل پرته) څېړنه ده. اوس مهال انسا ادارې د وارداتي نفتي محصولاتو د څېړنې لپاره په ګمرکونو کې خپل درفترونه پرانيستي دي او په نږدې راتلونکي کې د ساختماني موادو د څېړنې د واحد پرانيستل هم په پام کې لري. که څه هم په ډېرى پرمختللو هېوادونو کې د ستندرډ ملي ادارې په تطبيقي چارو کې دخيلې نه دي، مګر په ځينو مخ پر وړاندې هېوادونو کې د ستندرډ جوړونې ادارې ځينې تطبيقي( تنظيم کوونکې) دندې هم مخ ته وړي چې د سرچينو لږوالى يې د رول په لوبولو کې يو اساسي لامل ګڼل کېږي.

- د سوداګرۍ د تخنيکي خنډونو د هوکړه ليک په تطبيقي برخه کې د مسووليتونو او صلاحيتونو د وضاحت ارزونه او ډاډمن کېدل او له دې څخه ډاډ ترلاسه کول چې د مطابقت ارزونې د اختياري خدمتونو له برخې سره تضاد شتون نه لري
- د تطبيقي واحد د رژيم د تطبيق په موخه له نورو تطبيقي سرچينو سره د همکارۍ او همغږۍ پياوړتيا
- د تطبيقي اغېزو څېړنه او له دې څخه ډاډ ترلاسه کول چې دا تخنيکي مقررات يوازې د خونديتوب، روغتيا، چاپېريال، اقتصاد او ملي امنيت د تامين په موخه طرحه شوي دي
- له مارکېټ څخه د ساتنې د اغېزمن سېسټم طرحه او تطبيق چې په لومړيتوب لرونکو محصولاتو به تمرکز کوي
- د مشخصو محصولاتو لپاره د ستندرډ له علامې څخه د کار اخيستلو د جبري تګلارو طرحه او تطبيق

## ۵. د پايلو مديريت

د تطبيق وړ پروژو د هغو لومړيتوبونو له څېړنې څخه عبارت دي چې د صادراتو په سکتور کې او د وارداتو د بديل په موخه د سيالۍ د ظرفت لوړولو لپاره زمينه برابروي. دا موخې به د ټاکلي جوړښت له ملاتړ او غوښتنو ته د ځواب ويلو د وړتيا په پياوړلي کولو سره لاس ته راشي. د دې ستراتيژۍ د اغېزمن تطبيق، له تطبيق څخه کلي څار او همغږۍ لپاره اړتيا ده چې اړينې بشري، مالي او تخنيکي سرچينې تخصيص شي.

په بريالي توګه د فعاليتونو ترسره کول د انسا اداري او تر يو بريد پورې د شريکانو په توان پورې تړلي دي، څو پروګرام جوړونه او فعاليتونه په ښه ډول تر سره شي. د تلپاتې پايلو د ترلاسه کولو لپاره بايد د عامه او خصوصي سکټور په فعاليتونو کې همغږي را منځ ته شي. په دې توګه اړينه ده، څو د ستراتيژۍ د تطبيق د چهار چوب او ترويج لپاره مناسب چاپېريال را منځ ته شي.

د دې ستراتيژۍ لپاره د برياليتوب مهم معيار په فعاليتونو کې د همغږۍ وړتيا، له پرمختګونو څخه څار او د دې ستراتيژۍ د تطبيق لپاره د سرچينو چمتووالی دی. تر هغه وخته چې د کيفيت ملي شورى را منځ ته کېږي، انسا اداره د ستندرډ عالي شورى (SCS) تر چتر لاندې د دې ستراتيژيک پلان او د کيفيت د کراس سکټور ستراتيژۍ، د روغتيا ساتنې او نباتي حفظ الصحه (SPS) او د صادراتو ملي ستراتيژۍ د تطبيق لپاره د پروګرام جوړونې او اغېزناکې همغږۍ په موخه د مشورتي کمېټې د ايجاد وړانديز کوي. دغه مشورتي کمېټه به د کيفيت د ملي شورى د ايجاد تر وخته د همغږۍ او د ستراتيژۍ له تطبيق څخه څار او د پاليسۍ لپاره د لارښوونو د برابرولو مسووليت په غاړه ولري. دغه مشورتي کمېټه په راتلونکي کې د کيفيت ملي شورى تر چتر لاندې د تخنيکي کميسيون په توګه خپل کار ته دوام ورکولی شي.

مشورتي کمېټه بايد له لاندې ارګانونو څخه تشکيل وي:

**عامه سکټور**

- د سوداګرۍ او صنايعو وزارت
- د عامې روغتيا وزارت
- د کرنې، اوبو لګولو او مالدارۍ وزارت
- د ماليې وزارت
- د اقتصاد وزارت
- د ستندرډ ملي اداره
- د صادراتو پرمختيا اداره

**خصوصي سکټور**

- د افغانستان د سوداګرۍ او صنايعو خونه
- د افغانستان د ښځو د سوداګرۍ او صنايعو خونه
- د صادرونکو ټولنه
- د لومړيتوب لرونکو سکټورونو استازي بايد د مشورتي کمېټې غونډو ته د اړتيا په اساس وبلل شي

په ټوله کې دا وړانديز کېږي چې مشورتي کمېټه د لاندې دندو مسووليت چې د کيفيت په ملي پاليسۍ او د هغه د ستراتيژيو په تطبيق پورې اړوند دي، په غاړه لري.

- د کيفيت ملي بنسټ د مهمو فعاليتونو له فرصتونو او چلنجونو څخه مشترک درک او پوهاوی
- د هغو موخو او مقصدونو ټاکل چې د لاسته راوړلو په صورت کې به يې د کيفيت ملي بنسټ د خدمتونو د وړاندې کولو د پياوړتيا سبب ګرځي او په ټوله کې د مصرف کوونکو د ملاتړ سبب او د نړيوالو بازارانو د تقاضا له بدلون سره د تطابق وړ شي
- په پاليسيو کې د مهمو بدلونونو وړانديزاو د پاليسي جوړونو په منځ کې د پاليسۍ د دغو بدلونو ترويج
- د موخو او مقصدونو له صف بندۍ څخه د ډاډ ترلاسه کولو په هدف د حکومت، خصوصي سکټور، نړيوالې موسسې يا ارګانونو په وسيله د کيفيت ملي بنسټ د فعاليتونو له څار، تطبيق او همغږۍ څخه ملاتړ او د اړتيا په وخت کې د سرچينو په پېژند ګلوۍ او انطباق کې همکاري

## ۶. د ستراتيژۍ د موثر تطبيق د برياليتوب لپاره مهم عوامل

### ۶،۱. د ستراتيژۍ د تطبيق د مديريت وړتيا

اوسنۍ ستراتيژيکي مشورتي کمېټه او د کيفيت ملي بنسټ (د کيفيت ملي شورى څخه وروسته) د ستراتيژيو د تطبيق د رهبرۍ لپاره د برياليتوب له مهمو عواملو څخه ګڼل کېږي، مګرظرفيت يې په اغېزناک ډول د دندو د ترسره کولو لپاره په کافي نه دی. دا مهمه ده چې د دې شورى سکرتريت د کافي وړتياو او مهارتونو څخه برخمن وي چې د ستراتيژيو او د کيفيت د ملي پاليسيو د اغېزمن مديريت تضمين کوونکی وي. دا سکرتريت بايد د څار، پروګرام جوړونې، د سرچينو د چمتووالي او د مفاهيمي پايلو د تګلارو په اړه کافي زده کړه ولري. کافي سرچينو ته د سکرتريت د لاس رسي او د دې مسووليتونو د ترسره کولو لپاره د اړين ظرفيت له درلودو څخه د ډاډ ترلاسه کول له نورو مهمو مواردو څخه ګڼل کېږي.

### ۶،۲. د خصوصي سکټور ګډون او ملاتړ

له هغه وخته چې کله خصوصي سکټور د توليدي ظرفيت د ښه والي، د سوداګريز کمښت د لږوالي، د اداري پروسېجرونو په رغاوي کې د اسانتيا او مالي او نورو سرچينوته د لاس رسي له لارې د لومړنيو ګټه اخيستونکو په توګه د ستراتيژۍ په تطبيق کې وشمېرل شي، اړينه ده چې خصوصي سکټور په ښغه توګه دخيل کړای شي. د کيفيت ملي پاليسۍ مسودې، د کيفيت د کراس سکټور ستراتيژۍ او د روغتيا ساتنې او نباتي حفظ الصحې (SPS) د چمتووالي په اړه د بحث په جريان کې خصوصي سکټور په ښغه او يا له عامه ارګانونو سره د مشارکت په ډول د ستراتيژۍ او پاليسۍ د تطبيق اعلان وکړ. د ستراتيژۍ د تطبيق لپاره د هغوی په هڅو کې ښايي دغه موارد شامل وي لکه؛ عامه ارګانونو ته د سوداګريزو معلوماتو چمتو کول، څو

د پروژو په پرمختګ ، د پروسس او د شکل د بدلون د واحدونو په ايجاد او عدالت غوښتنه کې همکاره و اوسي. بايد په ياد ولرو چې د راکړې ورکړې او سوداګرۍ په برخه کې د خصوصي سکټور عملي زده کړې يو اساسي عنصر دی چې د دې ستراتيژۍ د فعاليتونو د هدفمند او اغېزناک تطبيق تضمين کوي.

**۶،۳. د غښتلو اړيکو او خبرو اترو تامينول**

انسا اداره او ګڼ شمېر نور ارګانونه چې د کراس سکټور تطبيق کوونکي دي، د ۲۰۱۹-۲۰۲۳ کال لپاره په پروګرام جوړونه کې بايد د ستراتيژۍ له محتوا او پايلو څخه په بشپړه توګه خبر اوسي. د خبرو اترو او اړيکو تامين د مالکيت حس د ايجاد او اړونده ارګانونو ته د فرصتونو د برابرولو لپاره حياتي عنصر دی، څو هغوی په دې باندې تمرکز وکړي چې کوم فعاليت په لنډمهاله او کوم په اوږد مهاله وخت کې ترسره کړي. سکټوري شريکانو ته مفاهمه او پوهاوی له يو ډول ارزښت څخه برخمن دی لکه؛ د دې ستراتيژۍ له وړانديزونو څخه د ملاتړ د فرصت ايجاد. دا فعاله اړيکې په معمولي توګه د زيات تعامل له لارې د تطبيق د پروسې په چټکيا کې مرسته کوي.

**۶،۴. د تطبيق لپاره سرچينې**

مشورتي کمېټه به (د کيفيت ملي شورۍ څخه وروسته) له وزارتوانو او ادارو سره په ګډه د دې ستراتيژۍ له تطبيق څخه ملاتړ وکړي. د ستراتيژۍ د تطبيق لپاره د سرچينو چمتووالی لازم او اړين دی. د سرچينو له چمتو کوونکو څخه په ستراتيژۍ کې د لومړيتوب لرونکو فعاليتونو پېژندنه ده او د سرچينو له چمتو کوونکو سره د قوي اړيکو تامينول دي چې په دې کې د ماليې وزارت پرمختيايي شريکان او کورني او بهرني پانګوال شامل دي.

د ملي بودجې پر تمويل سربېره د سرچينو د چمتوالي لپاره به د دې ستراتيژۍ په عمل پلان کې شاملو مهمو ساحو ته د انکشافي شريکانو او بهرنيو پانګوالو ملاتړ ترلاسه شي.

لکه څنګه چې وضاحت ورکړل شو، بېلا بېل تطبيقي ډولونه په برياليتوب سره د دې ستراتيژۍ د تطبيق ټاکونکي دي. دا په داسې حال کې ده چې د خصوصي سکټور په پياوړي رول کې د حکومت په عالي کچه ملاتړ په برياليۍ توګه د ستراتيژۍ د تطبيق اساسي محرک ګڼل کېږي.

## ۷. د هېواد د اقتصاد او مصرف کوونکو لپاره د دې ستراتیژۍ ګټې

### ۷،۱. د کیفیت ملي بنسټ او په کورني نا خالص تولید او د داخلي ناخالص تولید په پرمختګ کې د هغه رول (GDP)

د کیفیت ملي بنسټ پورې اړوند فعالیتونو په واقعیت کې د کورني ناخالص تولید په پرمختګ کې مثبت اغېز درلودلی دی او عموماً د مطابقت ارزنې خدمتونو له وجې په تازه خدمتونو او محصولاتو کې همکاري پیاوړې شوې ده او د کیفیت د ملي بنسټ د ارګانونو په وسیله ارزښتناک مالیات او عواید په نېغه توګه حاصلېږي.

### ۷،۲. په افغانستان کې د داخلي بازار، مصرف کوونکو، چاپېریال او د روغتیا خوندیتوب

د کیفیت ملي بنسټ د خدمتونو غوره وړاندې کول او پیاوړتیا د کورني بازار د ملاتړ متضمن او د افغاني مصرف کوونکو، روغتیا او خوندیتوب یې او د چاپېریال د ساتنې سبب شوي دي چې په پایله کې به د اقتصادي او ټولنیز پرمختګ سبب ګرځي. د کیفیت ملي بنسټ د خدمتونو پیاوړتیا د هغه څه تضمین کوي چې تولیدي محصولات او پروسې د نړیوال کیفیت په شرایطو برابر دي او مصرف کوونکي یوازې خوندي محصولاتو ته لاس رسی درلودلی شي. د دې خدمتونو د وړاندې کولو لپاره د سیالۍ د فرصت را منځ ته کول له یوې خوا په تولیدي پروسو کې د مطابقت لګښت کموي او له بل لوري به د کیفیت د فرهنګ د را منځ ته کولو سبب وګرځي. په کورني بازارونو کې د تقلبي محصولاتو خطر چې د ستندرډ په شرایطو برابر نه وي، لږ تر لږه کموالی مومي او په پایله کې د مصرف کوونکو تر منځ د راکړې ورکړې په تګلارو کې د باور د ایجاد باعث کېږي.

### ۷،۳. د تخنیکي مقرراتو او خطرونو د ارزونې لپاره وړ دولت

د حقوقي او ساختاري چهارچوب غوراوی او پرمختګ د دې تضمین کوي چې افغانستان به د څار ګټور سېستمونه ولري. د تطبیقي اغېزو ارزونه (RIA) به د شفافو، اغېزمنو او د تطبیق وړ مقرراتو په را منځ ته کولو کې مرسته وکړي.

دا کړنه په هېواد کې د یوه واحد او د هم شکله سټرکچر د چهارچوب لاندې د مقرراتو د تطبیق لپاره د زیاتې وړتیا په لرلو کې مرسته کوي او صنایع له ستندرډونو سره د مطابقت لپاره هڅوي. انسا او یو شمېر نورو تنظیم کوونکو ادارو سټرکچر همغږي پیاوړې کړې ده، څو د بازار تازه تقاضا ته په چټکۍ سره د ځواب ویلو وړتیا ولري او مقررات په سم ډول عملي کړي. انسا او نورې ادارې هغه کټګورۍ چې لوړ خطر لري، د

لومړيتوب له مخې طبقه بندي کړې دي او په دغو سيمو به خپلې سرچينې متمرکزې کړي، څو عام خلک د څار له مېکانېزم څخه ګټه واخلي.

### ۷،۴. په يوه مناسب او انعطاف پذير چاپېريال کې سوداګري

د کيفيت ملي بنسټ د پراختيا په موخه د کيفيت ملي خدمتونو په برخه کې د خصوصي سکټور پانګونه فوق العاده ارزښت لري. هغه منځني او کوچني تشبثات چې د صادراتو د زياتوالي بالقوه ظرفيت لري، د مطابقت ارزونې د ارګانونو چوپړتيا ته اړتيا لري چې عموماً د خصوصي سکټور له لوري يې ملاتړ کېږي. د باور او لازمو همکاريو له لارې د ظرفيت ارتقا او په خصوصي سکټور کې د مطابقت ارزونې د ارګانونو لپاره د تاييد د نړيوالې زمينې برابرول له منځنيو او کوچنيو تشبثاتو سره مرسته کوي، څو په مناسبه بيه د کيفيت ملي بنسټ خدمتونو ته لاس رسی ولري. دا موضوع په خصوصي سکټور کې د مطابقت ارزونې د ارګانونو لپاره د باور جوړونې مناسب چاپېريال را منځ ته کوي، څو د وړتياو په لوړولو پانګونه وکړي چې په پای کې به خدمتونو ته د منځنيو او کوچنيو تشبثاتو لاس رسی زيات شي.

### ۷،۵. په صادراتو کې د اجراتو زياتوالی

د کيفيت ملي بنسټ پرمختګ نه يوازې د کورني بازار د ملاتړ سبب ګرځي، بلکې د صادراتو د زياتوالي لامل کېږي. صادر کوونکي به د کيفيت او د ادا وړ لګښت مطابق مصولات او چوپړتياوې وړاندې کړي. دا کړنه به له افغاني صادر کوونکو سره په بازار کې د سختو او مخ پر زياتېدو شرايطو ته په لاس رسي کې مرسته وکړي.

## ۸. هيله لرونکې اغېزې او پايلې

- په ۲۰۲۳م کال کې به د افغانستان په لومړيتوب لرونکو خصوصي سکټورونو کې د کيفيت ملي بنسټ ټولې چوپړتياوې په نړيوال باور سره د لاس رسي وړ وي.
- په ۲۰۲۳م کال کې به د افغانستان د کيفيت ملي بنسټ د کيفيت ملي شوری تر مشرۍ لاندې د بين السکټوري په غوره همغږۍ سره فعاليت ولري. همدارنګه د دغو مواردو تحقق لګه؛ په سيميزو او نړيوالو فعاليتونو کې فعال ګډون، د تطبيقي اغېزو ارزونې (RIA) سره سم د مقرراتو درلودل او د مطابقت ارزونې خدمتونه چې د عامه، خصوصي او د څېړنو، پرمختګ، نوښت او يا ابتکار د اکاډميکې څانګې په وسيله ترې ګټه اخيستل کېږي.
- د دې ستراتيژۍ د تطبيق په پايله کې به افغانستان په راتلونکو کلونو کې د کيفيت په برخه کې د سيالۍ له مخې د جنوبي اسيا سيمې په کچه غوره ځای ولري. د کيفيت له ملي بنسټ څخه پياوړې نظارت، همغږي او پلان جوړونه به د کيفيت د ملي شوری تر مشرۍ لاندې چې د کيفيت فرهنګ ورته

لازمي دي، ترسره شي. د کيفيت ملي بنسټ ارګانونه به په نړيوالو غونډو کې ګډون وکړي او مهم رول به ولوبوي او د مطابقت ارزونې ډېر پورګرامونه او خدمتونه به له نړيوال شناخت څخه برخمن وي.

- د کيفيت يو اغېزناک بنسټ له شک پرته د بيې د ټيټوالي او د تشبثاتو د عوايدو د لوړوالي له لارې د افغاني چوپړتياو او محصولاتو د ارزښت د زياتوالي لپاره د اغېزمنې سيالۍ په پايله کې د کورني نا خالص توليد د کچې په غوراوي کې مهم رول درلودلی دی او په پايله کې غوره مارکېټونو ته د افغانستان د صادراتو لاس رسي او په بېلا بېلو سيمو کې د وارداتو د بديل معرفت ته اسانتيا ورکوي.
- د کيفيت ملي بنسټ به د روغتيا په ښه والي، د خلکو په خونديتوب او په چاپېريال ساتنه کې د پام وړ رول ولري










مرکزي لابراتوارونه
CENTRAL LABORATORIES



پته: د ستندرډ ملي اداره (انسا)

صنعتي پارکونه د کابل-جلال اباد سړک

کابل افغانستان

پستي شمېره: 5172

ټیلفون: 0202320118 (+93)